لیکوال محمد علی (په اردو ژبه)
ژباړونکی : ع . رشید
۲۰۲۳/۰۹/۱۹

# د افغانستان هنګامه (۲)

## د جنرال نادرخان صاحب راتګ

د افغانستان د خپلواکی د کالیزې په درشل کې:



همدرد ۲۴ فبروری ۱۹۲۹
لیکوال محمد علی (په اردو ژبه)
ژباړونکی : ع . رشید
اخځ: مضامین محمد علی رح حصه دوم ص ۳۸۰-۳۶۲ مخونه دچا پ کال ۱۹۴۰



لیکوال نامتومبارزمحمدعلي جوهر


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

**د دویمي برخې په اړه یوه لنډه یادونه،**

**محمدعلی جوهر چې دعلي برادران په نامه هم نامتودی په تیره برخه کې دشاه امان الله خان غازي د پاچاهي اود سقاود زوی پرډاګوګري باندې رڼا اچولې وه. په هندوستان کې دخلافت غورځنګ یوله هغوغورځنګونوڅخه وچې نه یوازې په آسیایی کچه دخپلوموخواواهدافوله امله مهم اونامتوو بلکې انګریزانوهم له دغه غورځنګ څخه چې پیاوړی اسلامي مرام او ملي آزادي غوښتونکې موخي یې درلودل دځانګړي خطراحساس کاوه، دغه غورځنګ دخپلومبارزو په لوړتیا کې په افغانستان کې د کورنۍ اړ دوړ اوسقاوي غوبل له حالاتوڅخه له اړتیا پرته ډیراغیزمن شو، ځکه دخلافت غورځنګ ډاډه هیله ، تکیه ځای اوبیلګه ییزمثال په آسیایي کچه افغانستان اوددغه هیواد د آزادۍ هنګامه وه چې زیاتره آسیایی ملتونوته یې د آزادۍ دلومړي لمرڅرک الهام ورکړ، په هندوستان کې هم دخلافت هنګامه او مبارزه دهند دخپلواکۍ دیوې برخې په توګه دافغانستان له خپلواکۍ وروسته پیاوړې شوه، دافغانستان د آزادۍ پرمهال دهندوستان دنفوسوکچه د څلورو سوو میلیونوپه شاوخوا کې وه، ددغه هیواد آزادي غوښتونکو پرخپل دغه ځواک باندې هغه وخت زیات فشاروراچاوه چې له اتو -ترلسومیلیونوافغانانو وکولای شول له انګریزانوځان آزاد کړي، دوی ته هم دغه ټکي دا الهام ورکړچې څلورسوه میلونوخلک خوپه آسانۍ سره کولای شي چې پاڅون وکړي اوخپل هیواد له انګریزی ښکیلاک څخه خپلواک کړي،همداوه چې دهندنامتومبارزسوبهاش چندرابوس په خپلو وینااوو کې دغه جمله په هرځای کې تکراروله چې:« ای دهند څلورسوه میلونی ملته د آزادۍ درس له افغانانو یاد کړئ... »**

**محمد علی صاحب په دغه مقاله کې خپله ځانګړې خواخوږي د افغانستان، اسلام اوآزادي په وړاندې ښودلې ده، دلته یې د اعلیحضرت نادرشاه راتګ اودهغه څرنګوالی تشریح کړی دی، محمدعلی په دغه مقاله کې ترهرڅه دمخه پردغه ټکي باندې رڼا اچولې چې امان الله خان خوولاړ، افغانستان سقاوي ډارمارانوته پاتې شوی اوهرې خوا ته خپلسرۍ اوجهالت سرراپورته کړی دی، په دغه ترڅ یوه نومیالي له فرانس څخه په هرډول چې وه، ملا راتړلې اوغواړي چې خپل هیواد ته له اوسني بدمرغ حالت څخه نجات ورکړي، چې هغه سپه سالارغازي نادرخان دی، هغه څوک چې دافغانستان د خپلواکۍ اوداماني نظام دپیاوړتیا په ترڅ کې دده له ونډې اوبرخې اخیستنی څخه په هیڅ ډول انکارنه شي کیدای، محمدعلی صاحب همدغه مهم ټکي ته چې ګواکي اوس دافغانستان له پاره دهمداسې یوه چا چې دامان الله خان دارمانوله پاره کارکولای شي اړتیا ده چې باید ملاتړیې وشي .**

**په دغه لړکې تا سې ګران لوستونکي پرهغه ټول بهیرباندې هم پوهیدای شئ چې سپه سالارڅنګه له اروپا څخه هندوستان ته راځي، داچې محمد علي ددغه راتګ عینی شاهد اودهند په دننه کې له نادرشاه سره همسفری و، ځکه خو یې داعلیحضرت غازي نادرشاه د راتګ ټول بهیر په دغوڅومقالوکې په جزیاتوسره دځان معتدل دریځ اوبې پلوۍ په پام کې نیولوسره ثبت کړی دی چې دهغوله مخې موږدنومیالي ټولواکمن نادرشاه په درایت، پوهې اوخواخوږۍ باندې په ډیره ښه توګه هم پوهیدای شواوهم قضاوتورباندې کولای شو، ددې له پاره چې په دغه اړه موځانونه دیوې شیبې له پاره له هغو تبلیغاتي اواحساساتي بدبینیوچې دنادرخان په اړه یې غوړونه راکاڼه کړي پریوه خوا کړي وي راځئ دلته یولړداسې حقایق هم ولولوچې دهغوله مخې نادرشاه چې په فکري اوملي لحاظ داماني سکې دویم مخ دی لږښه اودقیق وپیژنواوسم قضاوت پرې وکړو .داهم تاسې اوداهم دمحمدعلي جوهر څرګندونې. درناوی**

**رشید**

## دویمه مقاله

د «همدرد» د درنو لوستونکو په خدمت کې دهمدرد د ایدترپه واسطه له یوې مودې را هیسې داڅرګندونه وشوه چې نه د خلافت دټولنې کارکونکی اونه هم دهغوی مشرد افغانستان دهنګامې په اړه ناخبره اوناګاره دي، مانا داچې داوسنیوحالاتو په پام کې نیولوسره دا وړوبلل شوه چې باید په دغه اړه دم ګړۍ سکوت ته ترجیح ورکړه شي، خو ترټولودمخه دسکوت دغه مُهر ما دبمبې دمسلمانان دیوې عامې جلسې په وړاندې مات کړاویوساده تجویزمې د مسلمانانو دیوې ټولنې په وړاندې کیښود .

د دود له مخې ما له حاضرینودهرې وړې خبرې په اړه پوښتنه کوله چې هغوی به زما له نظرسره یو والي ته تیاری ښود ما به ورته ویل زماخبره سمه ده اوکه بیرته بیاځلي کاروربانديې وکړو، ان تردې کچې چې له دغه تجویزسره به ټولوحاضرینو خپل یووالی وښود، ددغه تجویزپه څنګ کې هغو په عین وخت کې یوعالم توپیرونه هم په ډاګه کړل چې دغه توپیرونه بیا په اخبارونوکې هم خپاره شوي اوپه ډاګه شوي دي، ماناداچې ما ته یې دخپلې سختې ناروغۍ اودبمبې دفساداتوپه ترڅ کې ان روغتون ته د تګ وخت هم رانه کړاوما ونه شوای کولای چې دخپل دغه تجویزاوپریکړې ژباړه انګریزي اخباروته واستوم اویا هم خپلې وینااوې په اخباروکې خپرې کړم .

دبمبې په اخبارونوکې د ویناوو رپوټونه دمدراس اوکلکتې تراخبارونوهم بدترخپریږي، سیاسي اوملي تعصبونوخود راپوروروکونکوناقابلیت اونه وړتیا اوعملي عصبیت او) حمیت الجاهلیه (نورهم لوړکړی دی، پرهمدغې مسالې باندې د شوکت صاحب دڅوورځوپخوانی وینا ) ټایمزآف اندیا (له ځانګړې مسخ والي اورنګ آمیزۍ سره خپره کړې وه، داسې رپورټونه چې کله کله سړی ګوري، پردې راضي کیږي چې ګرد سره وینا ونه کړي، که وخت بیاهم پیدا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

کیږي باید چې دخپلې وینا لنډیزپه خپله سړی ولیکي او اخبارونوته دخپریدوپه موخه واستوي، خو له دې سره سره هم زیاتره اخبارونه نن سبا دعصبیت په فضا کې لیکنې اوخپرونې کوي، دخلافت جریدې چې څه خپاره کړي زه دهغوی مننندوی یم، خوله دی سره سره بیا هم حقیقت دادی چې زیاتره رپورتران چې شارټ هیند(خلاصه لیکنه) نه پیژني )اوله سي آی ډي پرته داردو په لنډ لیکنه پوهیږي ځوک دي) دوی ټوله وینا په کټ مټ بڼې سره چاپوي، دپیل څه الفاظ اوجملې خوبی سمې وي، له هغه وروسته ټول مطلب د بې غوری له امله ګډوډاوغلط وي اوټول عبارتونه یې له سره بې ارتباطه اوګډوډ وي. په دغه اړه سمه خبره داده چې یوماهرراپورترهرڅه په غورسره واوري اوپه دقت اوښې حافظې سره یې درک اوخلاصه یې په معنی لرونکې توګه په مناسبوالفاظوکې په لنډیزاوځانګړې هڅې اوپاملرنې سره را ونغاړي،اوپه پای کې یې باید په داسې توګه چې د لوستونکو پرزړه اودماغ باندې هم خپل اغیزولري خپورکړي .

د(خلافت) مدیرصاحب زما دکلکتې دخلافت کنفرانس د صدارتي خطبې دټکي په ټکي خپرولوهڅه کړې وه، پرځان یې فشاراچولی واوهرڅه یې په خورا زیاراو زغم سره په جلسه ګاه کې ټکي په ټکي نشراوخپاره کړی ول، په خواشینۍ سره باید ووایم چې بیاهم په خپل کاراوهڅه کې بریالی شوی نه و، همداسې یې په بمبې کې دعامې غونډې وینا اودهغې ریوټ په بالمعنی ډول خپورکړی و، چې په رښتیا هم که دیوه اخبارمدیرپه دغه شان دیوه خبریال دنده ترسره کوي، او ورسره دمدیرکارهم کوي، نوپه دغودواړو کاروکې به ترېوې کچې پورې نیمګړی اوناکام خامخا وي .

زه دبدرجلالي صاحب له حده زیات مننندوی یم چې هغه زما دغه مضمون په خپله ایدتري وړتیا سره خپورکړ، دمدیراومسول له پاره داړینه ده چې باید دوخت په پام کې نیولوسره هم خپله وړتیا اوهم دلیکوال هیله په پام کې ولري، داسې به ګرانه وي چې یومضمون باید په هراړخیزه توګه دهغه اویا زما په خوښه خپورشي .

دهمدغوستونزولامل وچې د (همدرد) کتنپاوي هم د جامع جومات وینا په وړاندې له ستونزې سره مخامخ شواودهغې خپرول یې ودرول، په داسې حال کې چې هغوی لیدل چې یوشمیر اوسنیوجاسوسو خپرونکو زما وینا مسخ کړه اوزما پرخلاف یې خلکوته په بل ډول وښوده اوځآنته یې پیسې پروګټلې .

دافغانستان دهنګامې په اړه ما بالاخره پریکړه وکړه چې خپل نظریات د« همدرد» له لارې ښکاره کړم اوپه جامع جومات کې به له لمانځه وروسته یوڅه په دغه اړه ووایم، لکه چې د فبروری په ۱۵ نیټه مې یوه لنډه وینا وکړه اوهغه مې د «همدرد» له لارې د فبروري پر۱۸ نیټه خپره کړه، دهغې له خپریدو وروسته له حاضرینوڅخه یوشمیرځوانانو چې دهغوی معلومات هم د پیښوردخبرونواو آوازو اویاهم ځینواردو اخبارود خپرونوپربنسټ ول، زما وینا دهغوله پاره کافي شافي نه وه، ځکه خودهرسړي ته قناعت ور کول په خپل وارڅه آسانه خبره نه ده، خودغلطه اخیستنې ( غلط فهمی (لرې کولو پرلامل زما لږترلږه نیم ساعت نورهم ولګید چې دهغې له امله زما داسمبلې ځوملګري غونډې ته هم ډیرناوخته ورسیدل ، هوم م مبرصاحب اوځونورو مقررینوهم وېناوې وانه اوریدې، البته تیره جمعه دفبرورۍ په ۲۲ ما بیا په جامع جومات کې وینا وکړه خوبیا هم دهغوټولو غلطواخیستنوپرلرې کولوباندې بریالی نه شوم، ظاهراً خوټولو ګډون وال ځانونه قانع ښودل اوزما له نظریاتوسره یې هم نظري ښوده، زما نظریی ستایه اوزه یی په خپل خلوص اومینې سره مننندوی هم کړم، کاشکي چې په ټوله نړۍ کې مسلمانان دهندوستاني مسلمانانو په یوه ټولنه کې سره یوځای شوي وای، دهغوی په وړاندې مې هم خپل نظریات ویلي اوله هغوی سره مې شریک کړي وای ځودهغوی قناعت اوتسلی پرشوې وای،دهغوی اوخپلووطنوالوپه وړاندې مې دهغوی په خوښه اوډول هغه څه چې رښتیا ول لږترلږه تردوی پورې رسولي وای .خواوس زما وس یوازې اویوازې پردغه کچه دی چې خپل نظریات د(همدرد) له لارې خپاره اودوی ته وړاندې کړم، له خپلوټولو لوستونکوڅخه هیله من چې زما وینا وې ولولې اوهم مې له ورونږاخبارلیکونکوڅخه هیله ده چې زما خبرې او لیکنې غلطې تعبیراوتفسیرنه کړي، اونه زما په وړاندې ذهني ناوړتیا اوشک رامنځ ته کړي، ځکه حقیقت خودادی چې دیوشمیرنظریاتوڅرګندول هم په اوس وخت کې دمصلحت خلاف کاردی، زموږاخباري وروروليۍ ته کیدای شی تراوسه هم دغه مصلحت ددرک وړنه وي، اویاداچې کیدای شی زر او زور یې په مخ کې وسیله شوي وي، ځکه نوهغوی چې څه غواړي اویایې خوښه اودنده وي هغه لیکي، اوکه پرهغوهم شکرګذارنه شي نولږترلږه صابرخوباید پرې وي، سمه ده چې دخدای مخلوق زما په اړوند له بدظنی څخه کاراخیستلای شي خونه له بد وینې اووران وینې څخه، زما په اړه د بدظنۍ دغه چلند لومړنی چلن نه دی، بلکه ځوځوځلې هغوی په خپل وارخپلودغوتهمت تراشیو ته زما په اړه ددغې شریفې آیې یادونه کړې چې »: لولا اذا سمعتمودظن المومنون المومنت با نفسهم خیرا وقالوهذا افک مبین «

په هرډول زه نن له یوڅه زیاتوڅرګندونوسره دا په ډاګه کوم چې ما په دغه ترڅ کې څه کړي اویا څه کوم، اویادهغه چاپه باره کې چې نن سبادټولې نړۍ سترګې هغه ته وراوړي، زما نظراوتګلاره له څه دول ستاینې سره مخامخ کیږي، په دغه اړه زما څرګندونه داده چې که په دغه اړه له ماسره دپنجاب داخباري ورورولي توپیراواختلاف هم وي زه ناچاریم چې باید پیښې په خپله دهمدغوقیاسونود پریکړو پربنسټ ووایم. کله چې زه په کلکتې کې وم، نوبیا دصوبه سرحد مخالفوچاروا کوهلته د خلافت د پلاوي د استولوپرخبره باندې ټینګارکاوه،ځکه چې زه هم له هغوی سره یوه خوله وم، ماهم د خلافت دپلاوي پراستولوباندې ټینګارکاوه ځکه خوداپریکړه اونظرومنل شو، البته زه خپله له یوې مودې وروسته بیرته وطن ته راستون شوم، زه خپله ناروغ وم اوزما لوربیګم ماجدعلي ترما زیاته ناروغه وه،



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ما خپل نوم دهغه پلاوی له لیست څخه ویوست، اوس دهغه پلاوي په اړه افغان جنرال قنصل هم داخبره وکړه چې اعلیحضرت شاه امان الله له تاج اوتخت څخه د لاس پرسرکیدواعلان کړی دی، خپل وروړعنایت الله خان یې ځپل ځای ناستی ټاکلی اوخپله کندهارته تللی دی، د صوبه سرحد له پلاوي څخه غوښتنه وشوه ماهم شوکت صاحب ته تلیفون وکړچې د پاسپورت شونتیا څه ډول ده، هغه په ځواب کې را ته وویل چې په داسې حالت کې څنګه کولای شوکندهارته لاړشو، په رښتیاهم په داسې حالت کې دخلافت دپلاوي له پاره هم کاروایی ګرانه وه، **خوکله چې اعلیحضرت شاه امان الله خان له کندهاره بیرته اعلان وکړچې د واکمنۍ ترلاسه کولوله پاره بیرته لاس په کارکیږي، زه ولاړم چې له افغانی قنصل جنرال څخه خبره معلومه کړم،څرګنده شوه چې هغه هم یواستازی دحالاتود معلومولو په خاطرکندهارته استوي، اوکندهارته تګ زموږ له پاره هم شونی و، ما سره له دې چې لورمې له سختې ناروغۍ سره مخ وه خپل نوم په دغه پلاوي کې ونیواود هندله حکومت څخه موپه لیکني ډول غوښتنه وکړه، ما په دغه اړه دتیلفون له لارې دخارجه چارو له مسوول سرډینس بری صاحب څخه دمرستې هیله وکړه، په هم هغه شپه مفتي کفایت الله خان صاحب ته هم خبرورکړشو، هغه لومړی کندهاراوبیا د کابل تګ ته تیارکړشو، دویمه ورځ مې له سرډینس بری سره دکتنې غوښتنه وکړه خوهغه دکتنې پرځای لیکنې ته ترجیح ورکړه، هغه ته مویواوږد معلوماتي لیک ورولیږه، زه هم بمبي ته ولاړم، اوهلته مې له شوکت صاحب سره ټولې خبرې اومعلومات شریک کړل، له بمبي څخه مې د پرله پسې لیکونواوتماسونوله لارې دهندله حکومت څخه د پاسپورت غوښتې لړۍ ته دوام ورکړ،د مسلمانانود یوې پراخې عامې غونډې ترسره کیدو سره سره د سرډینس بری له خوا دانکار تلیفون راغی،خو زموږدویم تلیفونی تماس له هغه سره داو او ورته مووليکل چې ستاسې دغه ځواب معقول ځواب نه دی .**

په رښتیا هم چې افغانان په خپلوکې سره جنګیږي، که هغوی له جګړې څخه لاس نه اخلي، نودمصلحت له مخې هم دخلافت د پلاوي تګ هلته اړین اومهم دی، لاره په رښتیاهم ورانه ده، ویزه هم ضروري ده ، خودهنددحکومت لاره اوتګلاره نه صافوي، کله چې لارصافه شوه بیابه موږ هم روان شو، داجازې ورکولوپه دغه ترڅ کې کوم غدردی ؟ دمال اوځان له خطره دبچ کولوپه اړه موږ ډیرې هڅې کړې دي :

**دشمن اګر قویست نګهبان قوی تراست**

**په هرحال ،زموږ پردغه ټکي باوردی چې که موږ وهم مرو، موږ به بیاهم له یوه غیراسلامی ملک (هند) څخه نه دقصاص غوښتنه وکړو اونه هم دکوم تاوان، څوڅوځلې موږ ته د دښمنانوله خوا ستونزې اوخطرونه رامخته شوي دي، پرېږدئ یوځل د خپلوهم مذهبوورونوپه خاطرهم ځانونه دخطرمنګولوته واچاوو، په دې کې د دریغ له پاره ځای نشته، دهندحکومت په دغه برخه کې دبې طرفۍ اوناپلوي خبره رامنځ ته کړې ده خواوس ددغې بې طرفۍ له پاره څه ثبوت شته چې زموږغوندې خلک چې داستعمارڅرګند دښمنان یو، یواسلامي هیواد ولې دمصلحت اونا پلويتوب په نامه دخطرپه خوله کې پرېږدو .خوپه دغه اړه دحکومت له خوا څرګند انکاروشو، زه له بمبي څخه بیرته راغلم اویوځل بیا مې دسرډینس بری دپوهولوهڅه وکړه، اوهغه مې په (همدرد) کې خپره هم کړه چې زه تراوسه هم په دغه برخه ګردسره خواشینی نه یم، زه نورهم هڅه کوم اودا په ډاګه وایم چې داستعماردګټوله پلوه هم دافغانستان اوسنی ستونزه ګټوره نه ده، هلته دیوه باثباته اوپیاوړي اسلامي حکومت شته والی که څه هم داستعمارله پاره به ګټورثابت نه شي خوزموږد ملک اودولت له پاره د افغانستان اوسني بې ثباتي اوهنګامه له شکه پرته ډیرمضره اوخطرناکه کیدای شي، سره له دې چې اوس موږدواړه له یوه بل سره دوستان نه یوخوبیاموګټې سره ګډې دي .**

اوس داخبره پرېږدئ دابله کیسه واورئ، له سردینس بری سره مې داسامبلې له کتنې وروسته ما ته یوې معتبرې سرچینې په ډاګه کړه چې جنرال نادرخان صاحب له فرانسې راوتلی اوهندوستان ته را روان دی، په دغه وخت کې اخبارونود راجه مهندراپرتاپ اوهمایون صاحب نومونه اخیستل چې هغوی دده د بلنې په خاطرهلته تللي، خوداچې جنرال صاحب به له مسکوڅخه الوتنه کوي اوکندهارته به رسیږي، خوما تردې دمخه له فرانس څخه دنوموړي جنرال صاحب د روانیدوخبره تصدیق کړې وه، اوزه پردې پوهیدم چې له دغې شیبې وروسته هم دلته اوهلته خبرونو دچستان اومعما بڼه درلوده اود راتګ خبره هم لکه ترمځکه لاندې خزانه غوندې په اخبارواوخپرونوکې دآوازې اوافوا په توګه بې سراوپایه خپریده، چې ګواکي هغه د ایندواوکمپنۍ په بیړۍ) قیصرهند (کې دفبروري په ۹ نیټه له فرانس څخه حرکت راکوي چې انشاالله د فبروری په ۲۲ به هغه بمبي ته را رسیږي چې لیدوته به یې یوشمیرافغان دوستان مخکې له مخکې هلته ځان رسوي .

ماته په دغه برخه کې دا معلومات ول چې هغه اودهغه کوچني وروړسرداراعلی شاه ولی خان صاحب چې ما له نوموړي جنرال صاحب سره د ناروغۍ پرمهال سویزرلنډ ته دتګ پرمهال دډیلي پرتم ځای لیدلي ول، اوماته یې یوعکس اویوقلم هم را ډالۍ کړي ول، له عدن څخه دیوه سمندری مسیج په ترڅ کې ما ته یومضمون را استولی وچې دهغه له امله زه ډیرخوشاله شوم چې په هغه کې یې دخپلې مهربانۍ له مخې یې ماته دا لیکلي وو چې کله ډیلی ته را رسیږي اودڅومره وخت له پاره به دلته پاتې کیږي، ماته په دویمه ورځ یوبل پیغام چې په خپل لاس یې لیکلی و چې کله بمبي ته را رسیږي دوی به ماته خبر راکوي .ما ددغه بحری پیغام د راتلوخبره له شوکت صاحب سره هم دتلیفون له لارې شریکه کړه، چې ماته دجنرال صاحب اودهغه دورور سرداراعلی شاه ولي خان ځواب راغلی دی، ما



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

شوکت صاحب ته داخبره هم وکړه چې د دریوواړو ورونوپه خپل لاس لیکلی پیغام راغلی چې بایدپه ډیلی کې د خلافت دجمعت له خوا بلنه ورکړه شي لکه چې همداسې وهم شول، دجمعې په شپه د سحري پرمهال ماته دشوکت صاحب تلیفون راغی اوویې ویل چې درنومیلمنو دخلافت دجمعت بلنه منلې چې په دارالخلافت کې به دخلافت په ماڼې کې چې یوه تاریخي ماڼۍ ده هلته به ددوی استوګنې په خاطرټول تیاري ترسره کیږي .

ما دوخت له غوښتنې سره سم دخپلودرنومیلمنوله پاره چې خدای مه کړه د کوم هجوم له امله چې دوی ونه ډارشی اویا کومه اندیښنه ورته پیدانه شي،دخلافت دماڼۍ پرځای په میډنس هوټل یوسوټ اوځود خوب کوټې ونیولې، دسحري پروخت ما شوکت صاحب ته تلیفون وکړاومې پوښته چې هغه په ډیلی کې ددوی د استوګنې په اړه څه پیغام ترلاسه کړی، خوهغه په دغه اړه په خپل ځواب کې وویل چې دی له ۷ بجو وروسته ګودی ته ورځي اودرنومیلمنوته به هلته هرکلی ووایي بیا به خبرراکوي ، په سبا بیا زه له سحري وروسته دشوکت صاحب داطلاع اوتلیفون په انتظارکیناستم، کله چې دجمعې دلمانځه وخت را ورسید، زه اومولانا مفتی کفایت الله صاحب هلته روان وو ځکه خونا چارموبمبي ته زنګ وواهه، څرګنده شوه چې د سهارله اووبجو را په دیخوا دتلیفون لین خراب دی :

جس مین نامه بندهاها دلبرکا
وهي پرګر پړا کبوتر کا

له هغه وروسته ما تلیفون والاووته ووې چې که له بمبي څخه تلیفون راځي بند یې کړئ، کله چې زه له لمانځه او تقریرڅخه وروسته راځم ما له بمبي سره وصل کړئ، کله چې له لمانځه څخه کورته راغلم، له پوښتنې وروسته را معلومه شوه چې دتیلفون لین تراوسه هم جوړنه دی، ترماښامه پورې مې انتظاروکړ،له هغه وروسته د روژه ماتي په خاطریوه ځای ته ولاړم،هلته دیوه مقامی اخباردخاوند اومدیرڅخه معلومه شوه چې فري پریس دجنرال صاحب د راتګ خبرر ااستولی اودبمبي حکومت یواستازی دهغه دهرکلي په خاطربیړۍ ته ورغلی اوله افغان قنصل سره یوځای دتاج دهوټل پرلور تللي دي .

**داچې دشوکت صاحب اونوروخلافت والا کومه یادونه نه وه شوې،یادغه نوی رپوټ چې دوی باید په تاج محل هوټل کې ځای اوځای شي زما له پاره دحیرانتیا وړشو،خوچې خبرشوم چې هغه) سپه سالارغازي (دځان اویا هم دخپلې کورنۍ له پاره دتاج اوتخت ترلاسه کولوڅخه ګردسره انکارکړی دغې خبرې یې زه ډیرخوشاله کړم .همداوه چې ما په جومات کې دجنرال صاحب په اړه خبرې وکړې، چې هلته یوه صاحب داخبره هم وکړه چې هغه ولی دافغانستان پاچانه کیږي، مایې په ځواب کې وویل چې زه یوازې له خدایه پرته دبل چا پرپاچاهیت باندې قائل نه یم ، ما په دغه اړه ولی ګنکاروئ، دهغه له پاره، د مسلمانانوله پاره اودافغانستان له پاره داترټولوښه خبره اواړتیا ده چې د بیلابیلوفرقوپه منځ کې ددریم ګړي یا ثالث بالخیرپه توګه پاتې شي اویوپیاوړی اسلامي حکومت هلته رامنځ ته کړي، که دی هلته ددغه کارپرځای ځان پاچا وبولي او دتاج وتخت دعوه وکړي، هلته خبره نوره هم سره خرابیږي اوهنګامه نوره هم پراخیږي .**

زه کورته راغلم اویوبیړنی پیغام مې شوکت صاحب ته ورولیږه اوله هغه مې ډیلي ته دمیلمنود راتګ اودلته داستوګنې په باره کې معلومات وغوښتل، داچې په فري پریس کې لیکل شوي ول چې هغه به د فرنټیرمیل په واسطه د جمعې په ورځ سیده پیښورته ځي، ځکه خوما په خپل پیغام کې داهم ولیکل چې داخبره خود وعدې خلاف شوه، کیدای شي په لاره کې له هغه سره وګورو، دمولانا کفایت الله صاحب اوزما دواړوپه نظراواراده دامناسبه وبلل شوه چې موږ اودخلافت پلاوی باید له هغه سره دلارې په اوږدوکې وګورو .

دسحري پرمهال ما ته دشوکت صاحب مفصل پیغام را ورسید هغه لیکلي ول چې دری واړه محترم ورونه جنرال نادرخان صاحب، سردارمحمدهاشم خان صاحب اوسردارشاه ولی خان صاحب د) قیصرهند (بیړۍ په واسطه دجمعې په سهاررا ورسیدل، دخلافت اړوندان یې دهرکلي له پاره ګودي ته ورغلي ول، په بیړۍ کې هم دخلافت کارکنانو له هغوی سره کتنې اوښې دمزې خبرې کړې وې .دجنرال صاحب روغتیا یې حالت ښه نه و، دخپل پلاراونیکه دهیواد روانوحالاتوسخت دردولی و، هغه په ډیلې کې له ما اونورولیوالواحبابوسره دکتنې لیوال وخوداچې هغوی په ډیلی کې نه پاتې کیږي اونیغ پیښورته ځي .

هغه دخلافت والودکوربه توب هرکلی وکړاوهیله یې کړې وه چې یوڅه آرامۍ ته زیات اړتیا لري ځکه یې یوه ورځ په تاج محل هوټل کې داستوګنې اوآرام له پاره وغوښته،هغه به مطبوعاتوته هم وینا وکړي څودا ټولودوستانوته په ډاګه کړي چې دی افغانستان ته یوازې داسلام اوخپل پلرني هیواد ته دخدمت په موخه بیرته روان دی، اوله ټولودوستانوڅخه د دومره باورهیله من دی چې هغه ته په خپلې طریقې سره داوسني فتنې دپای ته رسولووخت ورکړي، له دغې مهمې فقرې وروسته شوکت صاحب لیکي چې زه باورلرم چې دا) نادرخان (هغه څوک دی چې دی به وکولای شي چې امن امان په افغانستان کې ټینګ رامنځ ته کړي. ځکه چې له هغه سره دوطن له مینې داسلام مینه اودرناوی هم په پام کې دی، هغه دخلافت له کارکونکوسره په خورا درناوي اومینې سره چلند وکړ،دخلافت والاودهند دټولومسلمانانو دهمدغې میلمه پالنې اوله هغه سره دیوځآی کیدواوهرکلي له امله مننې څرګندې کړې، هغه به سبا یا بل سبا له بمبي څخه روانیږي اوپه مناسب وخت کې به خبرراکړشي، )اوس دشوکت بل پیغام راغی چې محترم اودرانه ورونه نن د شنبې په ورځ د فرنټیرمیل په واسطه روانیږي، دهغه هیله ده چې زه باید له هغه سره



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ځوستيشنونه يوځاى سفروکړم، لکه څنګه چې ما اوغالباً مولانا کفايت الله صاحب اومولانا شفيع الله داوودى صاحب اوسيدمرتضى صاحب به دهغه له ارشاد اوغوښتنې سره سم سفروکړو (.شوکت صاحب داهم ليکلي ول چې هغه (جنرال نادرخان (له ناسازى سره سره دجمعې لمونځ په جامع جومات کې وکړاوهلته يې دبمبې دمسلمانانوله خوا دروند هرکلى وشو، په پاى کې يې داهم ليکلي چې نادرخان داسلام اووطن دخدمت په لاره کې يوه داسې هستي ده چې ليدنه يې په درناوي برسيره دخلکودسترې خوشالى ورشو .

تردې هم زياتې څرګندونې اوتفصيل له بمبې څخه ديوه مقامې اخبارله لارې نن سبا خپورشو،

د ایم.آر نادرپه نامه يې له مارسيلزڅخه سفررا پيل کړاوله خپلودوو وروڼوهاشم خان اوولي خان په نومونوسره هم سفردى، جنرال نادرخان دافغانستان په اوسنى شيبه کې ترټولوموزون اووړسړى نن سحربمبې ته د) قيصرهند (په نامه جهازکې را ورسيد، دايوڅرګند اوعيان راز وچې افغان جنرال دافغانستان دخلکوپه بلنه له خپلودوو وروڼوسره چې يومهال يې په خپل هيواد کې پرلوړو مقاموکارکړى وتشريف راوړ، په تيرو دوو ورځو کې دټولواوله هرې له خوا لاسليک شوې مبارکې اوهرکلي را روان دي اودهغومننداوى ځوابونه ورکول کيږي، دخلافت دمرکزى کميټې له خوامولا شوکت علي صاحب د زړه له کومې ښه راغلاست اود هرکلي پيغام وراستولى اوپه بمبې کې يې دهغو درنوکوربه توب هيله کړې ده، **د جهازله راتګه ډيرپخوا افغان قنصل اودهغه اړوندان اودمولانا شوکت على په مشرى دخلافت والوپلاوى، اخباروالا اوخبريالان اويوزيات شميرنورپه ګودي کې ورته انتظارول،پردوى برسيره دافغانستان يوشميراوسيدونکي هم له شاوخواڅخه دلته رارسيدلي ول، دبمبې دحکومت په استازيتوب مستر سي.ايف .کريک په ائى سى ايس جهازکې دنادرخان کمرې ته ورغئ اوله هغه سره ترډيروپورې خبرې اترې درلودې، په دغه حال کې دهغه دواړو وروڼوهاشم خان اوشاه ولي خان هم دخلافت له پلاوي سره دجهازپه تم ځاى کې په خورا ليوالتيا اوګرم جوشى سره کتنې وکړې اوپه روانه اردو کې يې وويل چې دوى دهندوستان اود هندوستان له مسلمانانوسره دزړه له کومې مينه لري، ځکه چې د دوى روزنه هم په ديره دون کې شوې ده، دوى دخپل وطن اواسلام خادمان دي، هغوى به خپل خدمت اوهڅې دخپلوخلکوپه وړاندې ترسره کړي. لږ وروسته جنرال نادرخان هم هغې ناسته ته را ننووت، اوږد قدى جګ نرې ځوک دى چې عمريې د ۵۵کالودى، تور رنګي کالي لنډه کورتى والا درشي يې په ځان کې وه، دخپلووروڼوپه شان ده هم افغاني خولى پرسرکړې وه، په خورا مينې سره يې د خلافت له وفد سره روغبړوکړاومولانا شوکت علي صاحب يې په غيږکې ونيو،دهغه مخ يې په اسلامي طريقې سره ښکل کړ، له هغه وروسته له مولانا شوکت علي سره کيناست اودجمعت خلافت له دغې ميلمه پالنې يې د زړه له کومې هرکلي وکړ، خود آرام په خاطريې له هغوڅخه دهوټل اجازه واخيسته، داچې هغه له ذات الجنب ناروغى څخه ځوريږي ځکه يې د پيښورترتګ دمخه ديوڅه آرام اوسکون هيله وکړه .حاضرينوته يې دوينا په ترڅ کې غوښتل ووايي چې هغه پلرني هيواد ته پربلنې برسيره يوازې د يوه سوله ييز مصالحت الخيرپر نيت راغى اودهغه هيله ده چې دپاک الله په مرسته ددغه اورچې په افغانستان کې لګيدلى دى پروژلوباندې بريالى شي .**

**هغه حاضرينوته ډاډ ورکړچې دده په دغه سفرکې کوم ذاتي غرض اوکوم پټ پلان نشته، هغه داسلام اوخپل ملک دخدمت په خاطر هلته روان دى، مولانا شوکت علي صاحب له هغه څخه هيله وکړه چې، نن د جمعې په لمانځه کې ګډون وکړي ځکه چې په زرګونومسلمانان دده ليدنې ته منتظيردي،جنرل صاحب مولانا الوالمعارف محمد عرفان صاحب ته مخ ور واړاوه چې په دغه باره کې داسلامي شريعت څه حکم دى، مولانا عرفان صاحب په ځواب کې ورته وويل چې پرمساپراوناروغ باندې دجمعې لمونځ فرض نه دى، خوکه ستونزه نه وي نوچې زرګونه مسلمانان انتظاردي، دهغوى خاطراوهيله بايد پوره کړه شي. له دغې خبرې سره سم دجنرال ورورهاشم خان وويل چې هو، دجمعې په لمانځه کې به خامخا برخه واخلو، جنرال صاحب وفد ته وويل چې دوى به په ډيلي کې دمحمدعلى بلنه چې هلته بايد يوڅه تم شي، رد کړه، هغه افسوس وکړچې موږ ته په دغه وخت کې دهغه دغه بلنه سره کول شوني نه دي .**

پردې برسيره يوپيغام ايسوشى ټيډ پريس هم را ليږلى دى چې په هغه کې هم دغه لاندې کرښې ديادونې وړدي :

»کوم اورچې زما په وطن کې نن لګيدلى دى، پرهغه اوبه اچول زما موخه اومقصد دى، زه اسلام او وطن ته له مخلصانه ارادې او خدمته پرته بل څه نه يم راوستى، دځان اويا خاندان په اړه ډيرکوچنى خيال اوفکرهم په اوسني نازک وخت کې ناپايه خود غرضي ده، ما په هراړخيزډول ديوې صلح الخيرد بلنې پربنسټ دسفراحرام تړلى چې په هغه کې دهيڅ ډول ذاتي غرض اونيت ځاى نشته، زه په تکرارسره عرض کول غواړم چې زما موخه اومطلب خپل ملک اومذهب ته خدمت کول دي، زه د دغې اوروژنې په خاطردمهربانه خداى دمرستې غوښتونکى يم، ما ته خورا زيات پيغامونه اوتشويقونه راغلي (هغه له لاهوره يوپيغام راوښود (چې زه بايد کندهارته ولاړشم، زما خيال دى چې زما دوست به پرما باندې باوروکړي چې زه خپل وطن ډيرښه پيژنم، زه ددې وړيم چې پرمابانديې باوروشي، چې زه به داسې يوه لاردځان له پاره غوره کړم چې هغه به ترټولوښه اوغوره وي، خوڅه چې اوس زموږله پاره ترهرڅه دمخه مهم دي هغه داوروژل دي چې په افغانستان کې دم ګړى لمبې کوي «.

کوم بل بيان چې نوموړي جنرال صاحب پريس يا مطبوعاتو ته ورکړى هغه دالاندې دى :

»په افغانستان کې کومې غلط فهمى چې اوسنى کورنى نفاق اوفساد رامنځ کړى دى، هغه خورا افسوسناکې دي، که چيرې دغه حالات ترزياتې مودې پورې دوام وکړي، نه يوازې به د افغانستان آزادي اواستقلال خاورې شي بلکه په



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

باندنۍ کچه به هم امن اوامان اوديوشميرقومونولومړنی موخې اوهيلې هغوی که دجمعتونوغړي هم وي له خطرسره مخامخ شي. زه له دغه ناروغه بدن سره دملک ديوه وفاشعارافغان په توګه هلته ځم اوزما دواړه ورونه هم خپل فرض بولي چې په دغه نازک وخت کې چې څه خدمت کولای شي بايد هغه ونه سپموي، دا زما په خورا عاجزۍ سره له لوی خدای څخه هيله ده چې هغه افغانستان وژغوري اودتل له پاره يې ديوه داسې خپلواک ملک دحيثيت لرونکی په توګه وساتي چې خپل اړيکی له ټولوهيوادوسره په ښه توګه وساتلی شي، اوموږته داتوفيق را په برخه کړي چې  خپل هيوادته هغه په زړه پورې خدمت وکړوکوم چې دهغه له پاره اړتيا لري. زما اړوندان اوخپلوان پرافغانستان باندې دحکومت کولويوه ذره هيله نه لري اونه هم دهغه هيواد دتاج اوتخت دعوه وړاندې کوو، زموږ يوازنۍ هيله داده چې هلته زرترزره سوله رامنځ ته شي اوجګړه پای ته ورسيږي، موږ افغانستان ته يوازې دخدمت اومشورې نيت په پام کې لرو،ترڅودخلکوپه منځ کې ذاتي اختلافات اوتوپيرونه له منځه لاړشي اوموږټول په يوالی اوپيوستون سره خپل هيواد ته عزت، ترقي اودرناوی ورپه برخه کړو،له داخلی دښمنۍ اوعنادونويې وژغوروا وهلته ديوه بابرکته اسلامي حکومت بنسټ کيږدو چې دافغانستان دامن اوامان اوآزادۍ ضامن واوسي  «.

ما دهغوی پيغامونه په ننيوخبرونوکې نه دي نشرکړي بلکې هغه مې دهغوخپل نظريات بللی اوپه خپله دغه پيلنۍ مقاله کې مې خوندي کړي دي، چې دتيلفون له لارې هم داټول تصديق شوي، داسې چې په دغه نازکه شيبه کې د لوی خدای دغه لوی اتل ته په خپل وطن کې داتوفيق ورپه برخه کړي، چې دافغانستان د هنګامې په اړه ټکی په ټکی کرښه په کرښه هغه نظريات اوخيالات چې موږ يې دزړه له کومی وايواوڅرګندوو، وليکو .

زما رايه هم ددغه لوی اتل په اړه  داده چې ده په رښتيا هم دآزادۍ دجګړې پرمهال دملک يوه برخه  هغه وخت له پرديوڅخه ونيوله چې هغوی پرډکه باندې خپل برلاس ټينګ کړ،پرهغه مهال چې په کابل کې خلکود پرديودالوټکو له ډاره) ګم شو، ګم شو (چغې وهلې اوهرې خواته حيران اوپريشان په منډو وو، اوپرهغه ټل يې خپل واک ولګاوه هغه چې په افغانستان کې يې د اعليحضرت  شاه امان الله خان دوره پيل اوافغانستان يې د آزادۍ اوخپلواکۍ په وياړسره سرلوړی کړ، زما همدغه هيله ده چې دهندوستان پرکوم تاراوپيغام باندې پاملرنه ونه شي، هغه که د ډيلي وي ، يا لاهوراوياهم پيښور، زموږيوازنۍ دعا همداده چې هغه) نادرخان (دخپل ملت اوخپل مذهب له پاره په زړه پورې خدمتونه ترسره اودښوکړواوبريوجوګه اودپاک الله په مرسته وکولای شي چې دخپلوتجربوپه رڼا کې دپرمختګ اوترقۍ پرلورګامونه پورته کړي اوپه عين حال کې دهغواخبارليکونکوله شره هم بې غمه شي چې د ۲۲ کروړو هندوستانيانوله ډلې څخه دي اونه شي کولای خپل ملک ته آزادي ورپه برخه کړي، په داسې حال کې چې دلوی الله په مرسته يونيم کروړافغان ولس وکولای شول چې خپل وطن آزاد کړي، وګورئ اوس هم له سختوستونزو اومهاجرتو وروسته هم دوی دخپل وطن په فکرکې دي، داغيارو له اجازت سره سم ترموږ پورې را ورسيدل اوپرهغومتضادو آوازوباندې بند نه شول هغه چې د پنجاب اخبارو ډنډوره کړې وې، اوله دغې آيت شريف سره سم چې ):فاصلحوبين اخويکم ( دعملي کيدوپه خاطريې د (بچه سقه  (دبې دينۍ دايسته غورځولوپه موخه يې دغې آيې ته ورمخه کړې چې  »:يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا أَنْ تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَى مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ

نه شاه امان الله خان کافرو، نه دسقاو زوی ، دواړه مسلمان اوله يوه بل سره وروڼه، داکه يومهال دسقاو زوی دشاه امان الله په وړاندې نا جايزاوناروا و، نن سبا شاه امان الله دهغه په وړاندې جايزکه نا جايز دی خوزموږله پاره په دغه اړه يوازې يوحکم دی اوهغه دادی چې » : وَإِنْ طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا فَإِنْ بَغَتْ إِحْدَاهُمَا عَلَى الْأُخْرَى فَقَاتِلُوا الَّتِي تَبْغِي حَتَّى تَفِيءَ إِلَى أَمْرِ اللَّهِ فَإِنْ فَاءَتْ فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا بِالْعَدْلِ وَأَقْسِطُوا إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ *إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ

په رښتياهم په افغانستان کې دوې ډلې په خپلوکې سره په جنګ دي، ليکن په هغوکې څوک ځان ثالث بالخيربولی اودهغودواړو ډلو ترمنځ دسولې بلنه ورکړې ده،اوس بايد دا په ښه کړي چې له حق څخه کوم يوه غاړه غړولې ده، اوکومه ډله) ياغي فتنه) ده ، تراوسه خو هندوستان والو دفاسق ټول دارمدار پرنيک پيغمبرباندې اچاوه چې بايد سزا ورکړه شي، اوس همداسې يووخت راغلی چې دمصلحت يوپلاوی  بايد د رښتيا په باره کې څيړنه وکړي،څرګنده ده چې داکاربايد جنرال نادرخان چې ثالث بالخير دی ترسره کړي،په رښتياهم چې جنرال نادرخان ترلاهوروالاوو دافغانستان لاره ښه پيژني، اوزموږ پردې باوردی چې هغه به له دغه اعلان څخه وروسته هغه لاره غوره کوي، چې هغه به دسولې اوامن لاره وي، اوپه افغانستان کې به يوپياوړی حکومت اوآزادي رامنځ ته کړي،هغه دالله نوم اخلي اوپرهغه لاره به پرمخ ګام پورته کړي لکه چې شاعروايي  :

عظمت بڑے بڑےہیں مزے راہ عشق میں
چل تو سہیءبڑ ھاتوقدمءدیکھ تو سہی

پاتې لري



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پاړوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څير و لولئ